# ربيکا

## د ډيفني ډي موېرناول

ژباړه او خلاصه
صفيه حليم
مارچ ۲۰۱۱ م

بيګا شپه ما په خوب کی وليدل چې مينډرلې ته تللې ووم. ځان مې د دی د اوسپنې لوې دروازې سره ولاړ وليدو چې وربانډې يو زنځير او قلف ځړيدل. دننه مې د دی لوې کور ودانۍ ليدې شوه چې کوټې يې تشې او د دود کش نه يې لوږې نه راوتلو. خو لکه چې په خوبونو کی کيږي، زه خپل ځان وينم چې په کور کی دننه ګرځم. هلته هر څه اوختي دي ځکه ساتنه يې نه وه شوی.
مونږ به نور د مينډرلې زکر نه کوو او زه به د خپل خوب په اړه هم چا ته نه وايم ځکه مينډرلې اوس زمونږ نه و، دا کور اوس پاتې نه دی. په دی کور کی د لومړي ځل راتلو نه يوه مياشت وړاندې، زه يوه غريبه امريکاي پيغله وم. سبق مې ويلې خو کار مې نه کوو. انځورونه مې جوړولې شول، خو دومره وس مې نه و چې ځان ته کار پيدا کړم. يوه شته منه سپين سرى چې ميرمن "وان هاپر" نوميده، د سيل لپاره اروپا ته روانه وه. هغې د سفر ملګرى نه درلود او ددې لپاره يې ماته معاش ورکړى و. ما خپله ځان ورته وپيژندلو او دی راته کار راکړو. بيا زه د هغې سره فرانسې ته ولاړم. د اروپا څو نور ځايونه مو وليدل.

هغه ورځ به ما نه هير نشي چې مونږ د "مونټې کارلو" په يو لوې هوټل کی ايسار و. دا هوټل د سمندر په غاړه و او پکی د اروپا شته من او خانان پاتې کيدل. ميرمن هاپر او زه چې د ډوډۍ خوراک له په لوې تالار کې کښيناستو نو هغې به نورو خلکوته کتل. کله نا کله به يې څوک وپيژندل نو روغبړ يا خبرى به يې وکړى. دا مې ليدل چې هغې د شته منو، نوابانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هم دغسي نورو لوړو خلکو ته ځان نږدې کوو. ما ته به احساس وشو چې که زه د هغې سره نه وې راغلې، نو ښاي، چا به راته کتلې هم نه. مونږ د هوټل د ډوډۍ په خوړنځي کی غرمنۍ ته ناست و، چې میرمن هاپر یو سړي سره روغبړ وکړو. ده ته یې د "میکسیم ډا ونټر" نوم واخستو. هغه د سترې مشي ځواب ډېر په ادب ورله ورکړو خو وې ویل چې دې یې نه پیژني.

میرمن هاپر ورته وویل، " ته زما د وراره ملگرې یې" ښاغلي میکسیم ورته سر ټیټ کړو، ډیر تشریفاتي چلن یې وکړو او ژر له هغه ځایه ولاړو. داسی ښکاریده چې دې د میرمن هاپر سره خبری نه غوښتې. ما ورته غرمه په خېر وویل خو ده سم ځواب رانکړو او ولاړو. ښاي میرمن هاپر زما په وړاندی د خجالت احساس وکړو.

د ښاغلي میکسیم شخصیت راته ډېر په زړه پورې ښکاره شو. داسې لکه چې د پینځلسمې پیړۍ د یو ښار اوسیدونکې و، یو داسې ښار چې چاپېره ترې لوې دیوال تاو و، لارې یې د تیږو وې ، لوړ منارونه یې لرل . هلته اوسیدونکو څوکه دار بوټان او د وړۍ جرابې په پښو کول. د ده مخ جذاب او حساس و، پکې د پخوانۍ زمانې یو څه شباهت و. ما ته داسې ایسیدو لکه چې د ده انځور مې په یو نندارتون کې لیدلې و. دا چې کوم ځاې مې لیدلې و، رانه هیر و. که ده د اوسنیو عصري جامو پر ځاې تور لباس اغوستې وې چې په غاړه او لستونیو یې جالۍ وي نو د لرغوني زمانې سړې ښکاریدو.

ما تر ډیره وخته د ده په اړه سوچ کوو. له ډوډۍ وروسته کله چې مونږ خپلو کوټو ته ولاړو نو شیبه وروسته یو چا دروازه وټکوله او یو کاغذ یې راکړو. په دی لیکلي و، " زه ډیره بخښنه غواړم چې نن غرمه درسره بی ادبه وم" په دی کاغذ د هیچا نوم نه و لیکلې، خو زه پوهه شوم چې دا چا رالیږلې و.

په بل سهار د هره ورځ په شان زه د میرمن هاپر کوټې ته ولاړم نو دا ناروغه وه. څه وخت مې ورسره خبرې وکړې، د دی څو واړه کارونه مې ورته وکړل او تر غرمې ورسره وم. بیا د ډوډۍ لپاره چې خوړنځي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړم نو ښاغلي ډاونټرمې ولیدو . راته یې بلنه راکړه چې دی موټر لري او د سمندر پر غاړه د کلیو سیل ته که تلل غواړم نو دې به مې بوځي. زه اوزګاره وم نو د ده سره تلو ته مې ځان تیار کړو. موټر د وړو لارو او خامو سړکونو نه تیر شو.

یو ځاې د موټر نه ښکته شو او په پښو مو د سمندر ننداره کوله. هلته یو ځاې ډیر ښکلې راته ښکاره شو اود دمې لپاره ودریدم خو ښاغلې ډاونټر ډیر ناارامه شو. ما ته یې وویل چې په دی ځاې کی هغه ښې خاطرې نه لرلې. داسی راته ایسېده چې کومه ناخواله یې هغه شیبه په زهن کی لیدله. ورته مې غږ وکړو نو وې کتل. یوه پیکه موسکا یې وکړه. زه ورنږدې شوم او په خبرو له هغه ځایه بیرته راغلو. ده رانه زما د ژوند په اړه پوښتنې کولې او ورته مې وویل چې زه د میرمن هاپر له کبله د امریکه نه راوتلې ووم ، که نه دومره پیسې نه لرم.

کله چې زه د موټر نه کوزیدم نو شا ته په سیټ د شاعرۍ یو کتاب مې ولیدو. زما شاعري خوښیږي او ښاغلي ډاونټر دومره مهربانه و چې هغه کتاب یې راته راکړو. ما ډېر وویل چې له ولوستلو وروسته به بیرته درکړم خو ده ټینګار کوو چې هغه کتاب زما شو. په هغه شپه چې ما دا کتاب د ولوستلو لپاره راواخستو نو د دی په لومړۍ پاڼې لیکلي و، " د ربیکا له خوا میکسیم ته ډالۍ کیږي " ما ته د میرمن هاپر خبره را په زړه شوه چې د ښاغلي ډا ونټر میرمنه ربیکا نومیده او اته میاشتې کیدې چې د کشتۍ د ډوبیدو په یوه پیښه کی مړه شوی وه.

څو ورځې وروسته میرمن هاپر روغه شوه او زه د هغې سره د چاې ډوډۍ لپاره ښکته تلم. خو د ښاغلي ډا ونټر سره مې په پټه لیدل. میرمن هاپر د دې نه نه خبریده. ما ورته پلمه وکړه چې زه د ټینس د لوبې درسونو ته ځم. ما د ده سره هره ورځ لیدل او ډېرې خبرې به مو کولې چې زیات به زما د ژوند په اړه وې. ما داسی انګیرله چې ښاغلي ډا ونټر د خپل ژوند په اړه څه د ویلو نه لري. ما به اوس هغه پخپل نوم "میکسیم" بللو. یوه ورځ مې ورته په ټوکو کی وویل چې هغه د زړه سوي له کبله ما د سېل ځایونو ته بیاي. دی راته په قهر شو چې داسی نه وه. وې ویل. " زه دننه نه مړ یم او تا سره چې خبری کووم نو د خپل ژوندي کیدو احساس راته ووشي " له دی خبری وروسته هم ما د ده سره لیدل او زما ورسره مینه پیدا شوی وه. میکسیم اولاد نه لرلو او د ده اباي کور مینډرلې په انګلستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی و. اوس به مې کله کله خپل ځان د دی د پخوانۍ میرمنې ربیکا سره پرتله کوو.
یوه شپه میرمن هاپر راته نا ببره خبر راکړو چې دا بیرته نیویارک ته تلل غواړي او د بلې ورځې د بیړۍ لپاره یې دوه ټکټونه اخستي و. ما خپل شیان راټول کړل او په بل سهار د میکسیم کوټې ته ولاړم چې په مخه ښه ورسره وکړم. ده راته د سبا نارۍ بلنه راکړه او مونږ ځوړنځي ته ورغلو. هلته یې راته وویل، " ستا په وړاندی دوه لاری دي، یوه دا چې د میرمن وان هاپر سره امریکه ته ولاړه شې او بله دا چې ما سره مینډرلي ته راشې."
ما ورته وویل، " ستا مطلب دا دی چې ستا سکټره یا مرستیاله شم؟ ده لږ په قهر وویل، " نه...نه...بې عقلې، زه درسره واده کول غواړم" ما د حیرانتیا او د خوشالی نه ورته " هو " وویل اود میرمن هاپر سره د هغې په کوټه کی خبرو ته ورغلو. میکسیم ورته وویل چې دې له ما سره واده کول غواړي او متاسفانه چې هغه به امریکه ته په سفر کې یواځې وي. په ظاهره دا خوشاله شوه او مونږ دواړو ته یې امبارکي راکړه خو کله چې میکسیم له کوټې ووتلو نو راته یې وویل چې ما د خپلو معاملو په پټولو له دی سره جفا کړی وه. وسوسه یې زړه کې راواچوله چې د مینډرلې په شان کور سمبالول اسانه کار نه و او وې ویل" زما نظر دا دې چې ته یوه لویه اشتباه کوې او وروستو به پری پښیمانه یې" خو میرمن هاپر پخپله لاره ولاړه او زمونږ واده وشو. ورپسې څو اوونۍ مو د اطالیې په ښارونو کی په سېل تیرې کړی.
کله چې مونږ د انګلستان په لوېدیځ کی مینډرلي ته ورسیدو نو هر څه راته یوه افسانوي دنیا ښکاریده. دا کور لکه د یوې ماڼۍ په شان و او د دی اوسپنیزه دروازه دومره لویه وه چې د اس ګاډی پکی دننه ورتلې شو. د دی یوی غاړی ته سمندر او نورو ته یې ښکلي باغونه وچې رنګا رنګ ونې او بوټي یې لرل. د دی لوې دالانونه، ښکلې کوټې او په دیوالونو ځړیدلي پخواني انځورونه چې ما یې پخوا تش تصور کولې شو اوس هر څه مې پخپلو سترګو لیدل.
د کور ټول ملازمان زمونږ هر کلي ته ولاړ و چې هر چا خپله دنده لرله او مشر یې "فرت" نومیدو. په هغه وخت زه د یوې پوخ عمر خدمت ګاری سره مخ شوم چې میرمن "ډېن ورز" نومیده. د هغې رنګ ژیړ او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترگو کې هيڅ ډول تاثر نه و. په تور لباس کې راته ډېره مرموزه ښکاره شوه خو ما سره يې په ادب خبرې کولې.
زه ميکس دننه بوتلم او هلته دوو وړو سپو راته په ټوپونو او غپا هر کلې وويل. وړوکې سپې "جيسپر" نوميدو. په ده مې لاس ووهلو نو لکۍ يې راته وخوځوله. له هغې وروسته زه چې کله به په کوټه کې ناسته وم نو دی به راته په پښو کې کښېناتو او چې بهر په باغ کې مې سېل کوو نو رانه وړاندی به يې منډې وهلې.
په دی کور کې يو ښکلي کتابتون و چې کړکۍ يې د سمندر لوري ته خلاصيدې. مونږ چې هلته کښېناستو نو چاې يې راته راوړی او له څښلو وروسته ميکسيم د خپلو ليکونو په پرانستواو ولوستو بوخت شو. زه د ميرمن ډينور سره د خپل خوب کوټې ليدو ته ولاړم چې د کور په ختيځه برخه کې وه.
په دی برخه کې اوس اوس رنګ روغن شوی و، خو دا د سمندر لوري ته نه و. ميرمن ډينور ډېر په ادب راته هر څه راښودل خو د دی په لهجه کې يو پټ نفرت مې احساسولې شو. زه هغه وخت ډېر ارامه شوم چې ميکسيم بره راغلو او پاتې کور يې راته پخپله راښکاره کړو. خو لوېديځه برخه کې څوک نه اوسيدل نو هلته نه ورنغلو. د ناستي په کوټه کې په بخاري کې اور بل و او مخې ته يې د ورځپاڼو او کتابونو دلۍ پرتې وې. د شپې ډوډۍ نه وروسته مونږ د بخارۍ مخې ته کښېناستو او ما د ربيکا په اړه سوچ کوو چې د هغې ځاې ما اخيستي و او اوس ټول راته د ميرمن ډا ونټر په نوم خطاب کوو.
په بل سهار باغبان راته د ناستي په کوټه کې د تازه ګلانو ګلدسته راوړه نو پخپله مې په ګلدان کې په ترتيب ووډل. ناڅاپه ميرمن ډينور لکه د يو سيوري راښکاره شوه او وې ويل چې دا د ملازمانو کار و او ما ته اړتيا نه وه چې په دی وخت ضايع کړم. ورته مې وويل، دا خو هيڅ کار نه و او زما ګلونه خوښيږي. ميکسيم د خپلوکارونو لپاره تللي و. ما چاې وڅښلې او د کور د لويديځې برخې ليدو ته مې ملا وتړله. داسی مې انګيرله چې هلته څوک اوسيږي او يا پکی څه پټ دي.
کور دومره لوې و چې لاره مې پکی نشوه پيدا کولې. بيا هم په پوښيو وختلم او يوه دروازه مې خلاصوله چې شا ته مې څوک ودريدل. د ميرمن ډينور په غږ وارخطا شوم چې راته يې ويل، " ستا څه پکار دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه سخته وویرېدم او ورته مې وویل، " ما لاره ورکه کړې وه". هغې راته وویل، " که دا کوټې دې لیدل غوښتې نو راته به دې امر کړی وې" زه لا کچه شوم او فکر مې وکړو لکه چې میرمن ډینور په غلا نیولې وم. ما ژر له هغه ځایه پښې سپکې کړې خو ویرېدم چې دا به زما په اړه څه نظرلري.
کتابتون ته ولاړم او هلته د لیکلو پر میز مې کاغذونه او په قلمدان کې قلمونه ولیدل. د کاغذونو په سر د انګریزي توري " آر " په طلاي رنګ لیکلي و چې د ربیکا د شته حال یې وویلو. د مطالعې لپاره چې مې هر کتاب را واخستو نو د هغې په یوه پاڼه به د ربیکا نوم یا " آر " لیکلي و.
کوټه یخه وه خو زه په یوې نرمې کرسۍ کښېناستم او د مجلې په ولوستلو بوخته شوم. ناڅاپه د میرمن ډینور په غږ هیښ شوم . رانه یې پوښتنه وکړه چې د کتابتون بخاري راته بله کړي؟ هغې ته مې مننه وویل، خو داسې راته ښکارېده لکه چې میرمن ډینور زما څارنه کوي.
ما په مینډرلې کې ځان ډېر وړوکې او یواځې احساسوو، خو یوه ورځ د میکس خور "بیټریس" او د هغې "مېړه" جایلز راغلل. د مینډیلې ساتونکې منیجر "فرینک کرالي" هم ورسره و. په سر کې زه نه پوهیدم چې د دوي سره په څه خبرې وکړم. خو د بیټرس کور ودان چې ټول وخت یې خبرې کولې او دا احساس یې رانکړو چې ګوندې زه پردۍ وم.
له ډوډۍ وروسته زه یې ځان ته کړم او لکه د یوې نږدې ملګرې د کور په ځینو خبرو یې پوهه کړم. راته یې وویل چې زه د کور مشره وم او له هیچا دې وونه ویرېږم. د کور د ملازمانو په اړه یې وویل چې دوي ټول معاش اخلي او د میرمن ډینور په اړه یې وویل چې هغه "ربیکا" ته ډېره نږدې وه او دومره یې خوښه وه چې نور څوک به یې د هغې خدمت ته نه پرېښودل.
ما چې د ایندرور خبرې واورېدې نو خوشاله شوم چې یو څوک په دې پوهېږي چې میرمن ډینور له ما ښه نه راتلل. بیټریس راته دا هم وویل چې ځان له نوې جامې واخلم او یوه مشغولا پیدا کړم لکه د اس سپرلې چې پخپله د هغې ډېر خوښېدو. کله چې دوي بیرته تلل ته ودرېدل او بیټریس وویل، " ما چې څنګه فکر کړی و، ته هاغسې نه یې، ته د ربیکا نه ډېر توپیر لرې"

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلمانه ولاړل نو زه د میکس سره باغ ته ووتلم. جیسپر سپي هم راسره و او له کوره لیرې ښکته لوري ته یوې ښکلې وادۍ ته لاره تللې وه. دلته ګلونه غوړیدلي و او یوه ویاله پکی بهیده. میکس راته وویل چې ده هغه ځای " خوشاله دره " بلله. زما لپاره دا لکه د ښاپیریو استوګن ځای و او یوه عجیبه سرور یې راته راکړو.

کاشکه یو چا داسې شي ایجاد کړی وي چې مونږ خپلې خاطرې په یو بوتل کی لکه د عطر ساتلې شوې. بیا به دا چرې هم نه زړیدې او نه به یې رنګ خرابیدو. او کله چې به مو غوښتلې ، دا بوتل به مو خلاصولې او په هغو شیبو کی به مو یو واری بیا ژوند کولې.

د زمکې خاوره نابېره ختمه شوه او اوس مونږ په ډبرو روان و چې د سمندر لوري ته یې کډه کړی وه. په دی وخت کی نری نری باران وریدل پیل شول نو سپي رانه منډې کړی او د څو لویو تیږو نه پناه شو. ما وریسې غږ وکړو، " جیسپر ...جیسپر" میکس ورته شپیلۍ ووهله خو سپې ورک و. میکس وړاندی تلو نه ډډه وکړه او ماته یې هم وویل چې مه ورځه خوما د ده خبره وونه منله . زه ویرېدم چې هسې نه سپې ښکته په اوبو کی ورغوزار شي او وریسې مې منډې کړی.

هلته د سمندر یوه بله څنډه وه چې پر غاړه یې یو مجذوب سړي په لړو اوبو کی واړه کلک پوستي مهیان راټولول. ما د سړي نه پوښتنه وکړه چې که یو پړې ورسره وي نو زه به یې د هغه سپې په غاړه تاو کړم چې بیا رانه منډه وونه وهي خو دی زما په خبره پوهه نشو. د سمندر نه وراخوا د لرګیو جوړه یوه پخوانۍ کوټه وه چې کشتۍ پکی ساتل کیدې. زه په هغې کی وردننه شوم او یو پړی مې وموندلو. دا مې د جیسپر له غاړی نه تاو کړو او دی مې بیرته کور ته راوستو.

کله چې میکس زه ولیدلم نو راته په قهر شو چې ما ولې د هغه خبره نه وه منلې. زه هم ورته په قهر ووم چې زه یې یواځې پریښودم . ده خپل دلیل ورکړو چې د سمندر د هغې غاړې سره د ده د ژوند بدې خاطرې تړلې دي. دا زمونږ د واده ژوند لومړې جنګ واو د میکس په خبره زه خفه شوم چې ځان سره لګیا و چې " زه ډېرکم عقل یم چې بیرته دی کور ته راغلم " ما له سخته ژړا راتله خو ځان مې قابو کړو او د هغه سره ډوډۍ لپاره ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې نه وروسته به هره ورځ باران و، خو کله نا کله به یو څوک د مینډرلې د نوی میرمنې لیدو ته راغلل او هر کلې به یې راته وویل. د دی خلکو د خلې نه به راته د ربیکا په اړه نور معلومات کیدل چې هغه ډیره ښایسته وه. یو چا به د هغې د پوهې اوښکلا صیفتونه راته وکړل، بل به وویل چې دهغی په شان میلمستیاوې بل چا نشوې کولې. د دی سیمې د پادري میرمنه چې راغله نو راته یې وویل چې ربیکا په خلکو کی ډېر احترام لرلو.
کله چې هغه ښځه ولاړه نو د مینډرلې منېجر فرینک کرالې مې ولیدو. ده راته د کور د چارو په اړه معلومات راکړل او زما پری باور جوړ شو. د ده سره مې په باغ کی قدم وهلو او د ربیکا په اړه مې تری پوښتنې کولې.
د هغې په اړه خبرو کی دې زړه نا زړه و، خو دا یې راته وویل چې د سمندر په غاړه هغه وړوکې کورگې یو وخت د ربیکا سره و او کله کله به یې په دی کی د شپې د ډوډۍ یا داسې نور رنگا رنگ محفلونه جوړول.
ربیکا به خپله کشتۍ په دی کورگې کی ودروله او په کومه شپه چې دا مړه شوه نو په کشتۍ کی ناسته وه. د هغې مړی دوه میاشتې وروسته د دی ځاې نه څو میله لیرې وموندل شو او میکس د هغې د مړي د شناخت لپاره بل ښار ته ولاړو.
ما چې د کرالې خبرې واورېدې نو ورته مې وویل، داسې راته ښکاري چې زه به چری هم د هغې په څېر یوه ښه د کور مشره نشم ځکه زه دومره تجربه نه لرم او پخوا مې داسې ژوند هم نه دې کړی. هغه چې زما خبره واورېده نو خفه شو او راته یې وویل، " میرمن ډا ونټر، دا خبره هېره کړه، هم هغسې لکه چې ستاسو مېړه هر څه هېر کړي دي، د خداې شکر دې چې مونږ هم هغه څه هېر کړل. په مونږ کی هیڅوک هم هغه تېر وختونه نه غواړي او میکس خو به چری هم هغه پخوانې وختونه بیرته نه غواړي"
میرمن ډینور زما لپاره یوه ځوانه خدمت گاره په کار وگوماروله چې "کلېرز" نومیده. د هغې د کار هیڅ تجربه نه وه او په ځان یې باور هم نه لرلو. خو زما لپاره دا د خوشالۍ زیرې و ځکه هغه راته د خپل ځان په شان ښکارېده. ورته مې وویل چې دواړه به په گډه د دی کور د چارو نه ورو ورو ځان خبروو.
یوه ورځ ما په کتابتون کی د میز پر سر څو لیکونه ولیکل او کله چې تری پاسیدمه نو لاس مې د بلورو جوړ یو ښکلې مجسمې سره ولگیدو او دا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمکه د پریوتو سره ټوټې شوه. ما وارخطا دا ټوټې راټولې کړی، یو پاکټ کی مې کېښودې او د میز په جابه کی مې شا ته پټ کړو.
په بله ورځ سهار د یوی خدمت گاری د ژړا غږ مې واوریدو چې میرمن ډینور ورته په قهر وه. ما د سالون دروازه خلاصه کړه او ولاړم چې پوښتنه وکړم چې څه شوي و. د هغه ماتې مجسمې ټوټې پر میز ایښې وې او میرمن ډینور وویل چې دا د هې نوکری د لاسه مات شوې او ټوټې یې په دراز کی پټ کړی و. ما ژر ورته وویل چې هغې دا کار نه و کړی او مجسمه زما د لاسه لویدلې وه.
میرمن ډینورپه یوې مرموزې موسکا وویل، " ښه به وې که تا د دی پیښې په اړه ما ته خبر راکړی وې" زه نوره هم کچه شوم او له هغې مې بخښنه وغوښته. په دی وخت کی میکس هم راغلو نو میرمن ډینور په هم هغې مرموزې موسکا ورته ټول حال وویلو.
مجسمه ډېره قیمتي او د میکس خوښېده. خوده وویل، " د دومره وړی خبری نه مو څه تماشا جوړه کړی ده ؟ هیڅ خبره نه ده، دا ډېر معمولې شې و" د میرمن ډینور په موسکا زه تر ډېره وخته نا ارامهووم. وروسته مې میکس ته وویل چې زه په دی کور کی ځان پردیَ گڼم. نه مې دومره سبق ویلې دې او نه د دی د مشرې په توگه د خپل مسئولیت نه خبره یم. ده راته ډېره تسلې راکړه چې د وخت په تیرېدو به هر څه زده کړم . خو ما سره اوس دا اندېښنه شوه چې زمونږ واده به پاتې شي او که نه.
د اوړي د پیل سره ورځې ښې شوې. د جون د میاشتې په لومړیو کی میکس لندن ته د یوې میلمستیا لپاره ولاړو. زه یوه ورځ د جیسپر سره بیا د سمندر غاړې ته ورغلم. هلته مې هغه مجذوب سړی بیا ولیدو. میکس راته د ده نوم " بېن " ښودلې و چې نږدې په یو کلي کی اوسیدو. دی زما په لیدو وارخطا شو او رانه یې پوښتنه وکړه چې پاگل خانې ته خو به یې نه وراستوم؟ ما ورته ډاډ ورکړو او په څو خبرو کی دی ارامه شو. راته یې وویل، " ته د هغې بلې په شان نه یې...هغه لوړه دنگه وه، ما ته لکه د مار په شان ښکارېده. ما هغه پخپلو سترگو لیدلې وه. دا هغه ښځه وه چې لومړی دلته راغلې وه او یوه ورځ مې د بل سړي سره په دی کوټه کی ولیده. هغې زه ولیدلم او راته یې گواښ وکړو چې که بیا مې داسې وکړل نو پاگل خانې ته به مې وروا‌ستوي." بېن رانه پوښتنه وکړه " اوس خو دا ښځه تللې ده کنه؟" زه نه پوهیدم چې ده کومه ښځه یادوله او ورته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چې زه نه یم خبر چې ته څوک یادوې. بیا مې جیسپر په مخه کړو او کور ته راغلم.
هلته یو نوې سپورټ موټر ولاړ و چې ښاي څوک پکی راغلي و. زه چې کورته وردننه شوم نو میرمن ډینور د یو سړي سره د لوېديځې برخې له پونیو راښکته کیده. دوي زما په لیدو وارخطا شول او داسی راته ایسېده لکه چې هغې د سړي راتګ له ما پټول.

هغه نااشنا سړې چې ځان یې راته د "جیک فاویل" په نوم راوپېژندلو ښه ښایسته او لوړ دنګ و او بهر ولاړ موټر کی راغلي و. له ما سره یې ډېرې صمیمي خبری وکړی. خو زه د ده په خبرو نارامه ووم. راته یې ست وکړو چې پخپل موټر کی به مې چکر ته بوځي. ما تری مننه وکړه او سوچ مې کوو چې دی به څوک وي او د څه لپاره راغلې و. نابېره په زړه کی مې وسوسه راولوېده چې هسې نه دې غل وي او د کور لوېديځې برخې نه یې څه شې پټ کړي وي. دې د میرمن ډینور سره چې بهر ووتلو نو زه بره د دې لوې کور لوېديځې برخې ته ولاړم چې تر اوسه مې نه وه لیدلې.
هلته هیڅوک نه اوسیدل خو په میزونو، چوکیو او نورو شیانو د دوړو، خاورې نه د ژغورنې لپاره څادرونه نه و غوړول شوي.
زه د یوی یوی کوټې په لیدو ورو ورو د خوب کوټې ته ولاړم چې یو وخت ربیکا به پکی ویده کیده. هلته ټولې کړکۍ بندې وې اویو نم ژن بوي خپور و. د یوې کړکۍ دړه مې لیرې کړه چې تازه هوا دننه راشي. په هغه شیبه مې د میرمن ډینور غږ واورېدو ،" ستا څه پکار و؟" د هغې غږ زه وارخطا کړم او ورته مې وویل، " زه په غلطۍ دلته راغلم غوښتل مې...هغې زما خبره پریکړه " تا دا کوټه لیدل غوښته؟ ولې دی راته مخکې نه ویل چې زه د ربیکا کوټه لیدل غواړم. ما به هم هغه وخت درته هر څه ښودلې وې" زما خله وچه شوه او ما میرمن ډینور ته هیڅ نشو ویلې. د هغې په خبرو ما د خجالت احساس کوو، داسې لکه چې ما غلا کړی وه او زه یې په غلا نیولې وم.
ما غوښتل چې په منډه له هغه کوټې وتښتم خو میرمن ډینور رانږدې شوه، لاس نه یې ونیولم او وې ویل، راځه چې د ربیکا کوټه درښکاره کړم. زما په فکر د هر چا په ژوند کی وړاندې یا وروسته یوه شیبه د ازمون وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ټولو سره خپل ځانګړی شیطان وي چې راباندې برلاسې شي او ترینه په عذاب یو. پکار ده چې ارو مرو ورسره جنګ وکړو.
میرمن ډینور راته د ربیکا یو یو شې راښکاره کوو. په لوې سینګار میز ایښي د هغې ږمنځه، لاسي هنداره، برشونه، د ډول سینګار شیان ، کالي پټري، دی ټولو ته مې کتل. د هغې چپرکټ هم هغسې جوړ و لکه چې اوس اوس به ورباندې سملي. ورباندې د خوب وریښمین لباس او د کټ سره د هغې مخملي چپلکې تیار ایښي و.
بیا هغې یوه الماریٔ پرانیسته او د ربېکا رنګا رنګ لباسونه، کوټونه ، چپنې او بوټان یې څرګند کړل. زه ستړې وم او نه مې غوښتل چې نور څه ووینم، خو هغې درازونه پرانستل چې پکې نازک رومالونه ایښي و. په ټولو د انګریزي تورې " آر" په ډېر مهارت کښیده شوې و. د هغې قیمتي وریښمین زیر جامې، جرابې، او نور واړه شیان په ترتیب ایښي و. میرمن ډینور زما لاس واخستو او د خوب په یو وریښمین کمیس یې کیښودو چې وګورم دا څومره ملایم و. هغه په یوې بلې دنیا کی ښکاریده او زما ترې وېره وشوه.
میرمن ډینور راته د هغې شپې کیسه وکړه چې ربیکا په اوبو کی ډوب شوی وه. هر چا داسی فکر کوو چې دا به د کشتیو په وړه کوټه کی ویده وي، ځکه هغې به کله کله هم هلته شپه کوله. خو سهار چې دوي راپاسیدل نو خبر شول چې کشتیٔ ورکه وه او په سمندر کی د دی ځینې تختې پاتې وې.
میرمن ډینور راته وویل ، هغه فکر کوي چې د ربیکا روح کله کله راځي. له ما یې پوښتنه یې وکړه، " ته څه فکر کوې ، هغه به مونږ ویني چې اوس د یو بل سره خبرې کوو. آیا مړي بیرته راتلې شي او د ژوندو ننداره کولې شي؟ زه د هغې په خبرو دومره ووېرېدم چې هغې نه مې معذرت وکړو چې یو کار لرم او له کوټې مې ځان وویستو. خپلې کوټې ته په منډه راغلم او داسې احساس مې کوو چې ټول وجود مې شل و. سمه دمه تبه راباندې راغله او په کټ پرېوتم.
په بله ورځ زما ایندرور بیټرس راغله او زه یې په موټر کی د خپلې نیا (انا) لیدو ته بوتلم. د میکس سپین سری نیا خپل کور کی اوسیده. په لاره مې له بیټرس پوښتنه وکړه چې جیک فاویل څوک و؟ هغې راته وویل، دی د ربیکا ترور زې و او کله چې هغه ژوندیٔ وه نو دې به مینډرلې ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلو راتلو. مونږ چې د انا سره کښېناستو نو هغې سره مو خبرې کولې. د دې د سترګو دید لږ و او خبرې به هم ترینه هیرې شوې. ما تر خپله وسه د دی د خبرو ځواب ویلو ځکه هغه سپین سری وه. نابېره یې راته وویل، " ربیکا څه شوه؟ تاسو ولې هغه له ځانه سره نه ده راوستې؟ میکسیم باید ربیکا ځان سره راولې، هغه راباندې ډېره ګرانه ده. څه شوه ښکلې ربیکا ؟"

د بیټریس رنګ والوتو او ژر ژر یې د انا نه رخصت واخستو، ماته یې اشاره وکړه او دواړه بیرته راغلو. میکس د لندن نه بیرته راګرځېدلې او زه چې کور ته وردننه شوم نو د ده غږ مې واورېدو. دی سخت په قهر میرمن ډینور ته لګیا و چې " جیک فاویل به دی کور ته بیا نه راځي" زه د میکس په لیدو دومره خوشاله شوم چې د تیرو څو ورځو اندېښنې رانه هیرې شوې.

یوه اوونۍ وروسته د یک شنبې په ورځ مونږ د ډوډۍ لپاره میلمانه رابللي و. په دوي کی یوی میرمنې په خبرو خبرو کی پوښتنه وکړه چې سږ کال به په مینډر لي کی د عجیبه لباسونو د نڅا میلمستیا وي او که نه؟ زه د دی نه خبره نه وم. خو د ربیکا په ژوند کی به دا میلمستیا هر کال کیده او ټولو به تری ډېر خوند اخیستو.

میکسیم د میلمستیا لپاره زړه نا زړه و او راته یې وویل چې دا ډېر کار غواړي او زه یې تجربه نه لرم. خو ما ورته وویل، چې دا مېلمستیا به ارو مرو کیږي او اخر زما په ډېره غوښتنه میکسیم راضي شو. د مینډرلې منیجر فرینک کرالي او میرمن ډینور ته دا دنده وسپارل شوه چې دوي به ټول انتظام وکړي.

د مینډرلي د مشرې په حیث دا زما لومړۍ لویه مېلمستیا وه او سره له دی چې هیڅ مې نه و زده، هوډ مې وکړو چې هر څه به د ربیکا نه ښه وکړی شم. د نورو ټولو کارونو لپاره ملازمان و او زما پکی څه دومره ونډه نه وه. ګډون کوونکو باید یو داسې لباس اغوستې وې چې حیرانوونکې وي. ما څو ورځې د خپل لباس لپاره انځورونه جوړول خو تسلي مې نه کیده.

یوه ورځ په دی چرت کی وم چې میرمن ډینور راغله. راته یې وویل ، د دی کور په دیوالونو پخواني انځورونه ځوړند دي، ته کولې شې چې د لباس لپاره له هغوي یو څه الهام واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې دا خبره چې مې خوښه شوه نو لوی تالار ته ولاړم. دا هم راسره وه. یو یو انځور مو کتلو او د ښځو لباس ته مې پام کوو چې زه به هغسې یو لباس کې ځنګه ښکارم. هغې راته په دیوال د اتلسمې پیړۍ یو انځور په ګوته کړو. هلته یوې ځوانې جینۍ سپین اوږد کمیس اغوستې و او خپله خولۍ یې په لاس کی نیولې وه. دا انځور زما خوښ شو او میرمن ډینور راته وویل چې هغه په لندن کی یو ډېر ښه لباس جوړونکې پیژني چې داسی جامې ګنډي او که زه غواړم نو هم هغسې کمیس به راته د جوړولو فرمایش ورکړي.

زه د میرمن ډینور په خوږو خبرو حیرانه شوم خو فکر مې وکړو اوس لکه چې زما وجود یې منلې و او رانه دومره کرکه نه کوي. ورته مې وویل چې زه به پرې سوچ وکړم او ځان سره مې کرل ریبل چې په هغې باور پکار دې که نه؟ خو ما پکی د تاوان داسی څه نه لیدل اخر مې فیصله وکړه او میرمن ډینور ته مې وویل چې هغه لباس د ګنډلو فرمایش دی ورکړي چې په انځور کی مې خوښ کړی و.

ما په کور کی د ټولو نه د دی لباس خبره پټه ساتلې وه او غوښتل مې چې د میلمستیا په ورځ خلک راته حیرانه پاتې شي. میکسیم ته مې هم نه و ویلي چې ما ځان ته کوم لباس غوره کړی و. د هغه د لباس انتخاب اسانه و ځکه د کوربه په حیث دی مجبور نه و چې عجیبه لباس یې اغوستې وې.

د میلمستیا په ورځ ده خپل عادي جامې په غاړه کړې اوپه لوې سالون کی د میلمنو د هر کلي لپاره ودرېدو. بیټریس او د هغې میره جایلز لږ د وخته راغلي و او د ځنګلیانو لباس یې اغوستې و. دوي چې د میکسیم او فرینک سره په خبرو بوخت شول نو زه بره جامو بدلولو ته ورغلم.

زما خپلې خدمت ګارې کلیرز راسره مرسته وکړه او خپل ځان راته په هنداره کی ډېر ښایسته ښکارېدو. هم هغسې چې په انځور کی هغې ځوانې جینۍ خپله خولۍ په لاس کې نیولې وه، ما دا په لاس کې واخیسته او ورو ورو په ډېر باور په پوړیو ښکته شوم. ما فکر کوو چې زما په لیدو به دوي ټول حیرانه شي او هم دغسې وشول خو ځنګه چې مې غوښتي و هغسې نه. بیټریس یوه چغه کړه او دمیکسیم رنګ الوتې و. ده په قهر راته وویل چې بره ولاړه شه او جامې دې بدلې کړه. زه هک پک ودرېدم او د میکسیم په دویم غږ بیرته په پوړیو خپلې کوټې ته مې منډه کړه. له سترګو مې اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رواني وې او کله چې مې د کوټې دروازه څان پسې بندوله نو په دهليز کی ميرمن ډينور ولاړه وه چې په مرموزه موسکا يې راته کتل.
زه په کټ پريوتم او په زوره مې ژړل څکه نه پوهېدم چې ما څه خطا کړی وه. بيټريس ما پسې کوټې ته راغله او راته يې تسلي راکړه. بيا يې وويل، " کټ مټ هم داسی لباس ربيکا پخپلې وروستۍ ميلمستيا کی اغوستې و او ميکسيم داسې فکر وکړو چې ما په قصد دا کار کړې و. ښکته ميلمانه راغلي و او هر چا زما پوښتنه کوله. ډېر وخت تير شو او کله چې زما ساه صورت پر ځاې شول، نو بيا مې مخ لاسونه ووينځل او يوعادي لباس کی ښکته ولاړم.
هلته هر چا رانه پوښتنه کوله چې ما ولې ځانګړې لباس نه و اغوستې. بانه مې ورته وکړه چې د لندن نه زما لپاره غلط لباس رااليږل شوی و. زه د ميکسيم په څنګ کی ولاړه وم او د هر چا سره مې په ورين تندي د خبرو هڅه کوله خو داسې احساس مې کوو چې کله زه د خلکو نه مخ واړوم نو دوي زما په اړه غږيدل.
د نڅا او د موسيقۍ نه وروسته د اور لوبې (آتشبازي) د ننداري لپاره ټول بهر باغونو ته ووتل. له دی وروسته ميلمانه ورو ورو خپلو کورونو ته روان شول. زه ستړی وم نو د جامو بدلولو نه وروسته په کټ کی سملاستم او د ميکس انتظار مې وکړو. خو دی ټوه شپه رانغلو او زه ډېره ناهيلې شوم. يو وخت مې سترګې ورغلې او لږ خوب مې وکړو.
بل سهار اسمان په وريځو پټ و او په زمکه دود خپور و. کليرز راته د بيټريس له خوا ليکلې پيغام راوړو چې بيګا يې د تلو نه وړاندې راته پريښې و. په دی کی د شپې د ميلمستيا په اړه راته ښې خبری ليکلې وې او دا چې ميلمانه ټول خوشاله کورونو ته تللي و. په دی پيغام زما زړه جوړ شو خو د ميکسيم درک نه و.
ما د ميندرلې د منيجر فرېنک دفتر ته ټيليفون وکړو او له ده مې پوښتنه وکړه چې ميکس چرته و، خو دی هم نه و خبر. فرينک ته مې خپل احساسات څرګند کړل چې زه څومره ناهيلې وم او دا چې ميکس به چری هم راسره مينه ونکړي څکه ده تر اوسه د ربيکا سره مينه لرله. فرينک چې دا واوريدل نو راته يې وويل چې دا بې منطقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره وه او دی به ما سره مخامخ خبری وکړي، خو ما له ژړا راتله او ټيليفون مې بند کړو.
په کور کی مې اوس زړه تنگ شوی و نو بهر باغ ته ووتلم. خپل حالت ته حيرانه ووم. کله په انسان چې غمونه ډېر شي نو ځان ته پخپله تسلي ورکوي چې زه خير دې، دا هغه بد ترين حالت دی او اوس به د دی نه نور خراب حالت څه وي. ما هم د تيری هری پيښې پر وخت ځان ته هم دا ويل چې دا تېره شپه به تيره شي. خو دا ريښتيا نه وي. په مونږ کی دننه چې کوم بد وي ، هغه هيڅ حد نه لري، هم هغسې چې د انسان ښه نيت څه حد نه لري. دا زمونږ پخپل لاس کی وي چې د بره ختلو لپاره لاس پښې ووهو او که ښکته غورځيدو ته ځان پرېږدو.
زما لپاره اوس دا فيصله کول و چې زه به کومې خوا ته ځم. خپله ماتې وومنم او ځان حالاتو ته پرېږدم چې هر څه راپېښ شول، راپېښېږي به. بيا به مې سوچ کوو چې نه زه ځان د نورو په اسره نشوم پرېښودې. زه بايد څه وکړم، خپل وروستې توان يو ځاې کړم چې د ميکس مينه رانه ورکه نشي.
هم په دی سوچونو کی د ټول کور چاپېره گرځېدم چې بره مې پام شو. د لوېديځې برخې له يوې کړکی نه ميرمن ډينورراته کتل. د هغې پر مخ يوه داسې موسکا وه لکه چې جنگ يې گټلې وي. هم هغه شيبه مې هوډ وکړو چې زه به د دی سره ووينم او مخامخ به ورسره خبری وکړم.
دننه ولاړم، ځان مې د ربېکا کوټې ته ورسوو او په زوره مې ورته وويل، " تا چې څه غوښتل هم هغسې وشول، داسې ده که نه؟ تا هم دا غوښتل کنه؟ ميرمن ډينور په هغه شيبه راته ډېره زړه او ناروغه ښکاره شوه. راته يې وويل،" ته ولې د ربيکا پيښې کوې؟ ته د هغې ځاې چرې هم نشې نيولې. ميکسيم له تا سره مينه نه کوي، په هغه اوس هم ربيکا گرانه ده، هغه له تا زياته ورته نږدې ده. هغه له تا ښکلې وه، ځوانه وه او لکه د يو ځوان سړي په شان زوره وره وه."
زه د مېرمن ډينور له خلي دې خبرو ته حيرانه وم خو ورته مې څه وونه ويل. دا هم هغسې د ربيکا په صيفت لگيا وه. " هغه ښکلې وه او هرسړي ورسره مينه کوله، د هغې تروږزي جيک، ميکس،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرینک ، دا ټول سړي او د دوي په شان ډېر یې نور هم لیوني کړي
و. دوي ټول د هغې په سر د یو بل رقیبان و. خو د ربیکا لپاره دا
هر څه یوه لوبه وه."
د میرمن ډینور غږ ناڅاپه ډېر نرم شو او راته یې وویل،" ته ولې نه ځې؟
دی تا نه غواړي. دی به تا چرې هم خپله نه کړي. پکار ده چې ته مړه
شوې وې، نه چې میرمن میکسیم ډا ونټر...
په هغه وخت ناڅاپه له ژوند مې زړه تور شو. ما ته د هغې خبرې ریښتیا
ښکارېدې. خپل حېثیت راته معمولي ایسېدو. د میکسیم مینې تر اوسه راته
یو توان راکړې و خو اوس مې هغه توان د لاسه ورکړې و. میرمن ډینور
زما لاس ونیولو او کړکۍ ته یې بوتلم. له خلاصې کړکۍ نه ښکته د کور د
تیږو انګڼ ښکارېدو. ما د میرمن ډینور غږ له لیرې اوریدو چې راته یې
ویل، " تا سره هیڅوک مینه نه لري، او د بې مینې ژوند نه مرګ ښه وي.
که تا له دی کړکۍ ټوپ کړو نو د هر یو غم نه به خلاصه شې."
په ما سر وګرځیدو او بهر په دود او وریځو کې لکه د یو خوب نور څه مې
نه لیدل. یخه هوا مې پر مخ ولګیده او فکر مې کوو چې که ټوپ کړم نو
ریښتیا د ټولو غمونو نه به خلاصه شم. نږدې وه چې ځان مې له کړکۍ
غورځولې وې چې د توپې یو لوې درز سره زه د هغې خوب نه راویښه
شوم.
یوه لویه بیړۍ د مینډرلي د ساحل سره نږدې په وچه راختلې وه او ما
میکسیم ولیدو چې ښکته له انګڼ نه بهر د ساحل لوري ته روان و. د هغه
په لیدو د خوښي احساس مې وکړو، میرمن ډینور مې هم هلته پرېښوده او
زه هم د نورو سره د ساحل لوري ته ووتلم. هلته ډېر نور خلک راټول و
او یو چا راته وویل چې د دود له کبله لویه بیړۍ د ژورو اوبو نه دوه میله
دېخوا راوتلې وه. اوس غوطه خور ( په اوبو کې دننه ورتلونکي مانو
ګان ) یې وراستولي دي چې که دا بیرته ژورو اوبو ته راکاږي. میکسیم د
بیړۍ یو ټېپي کس پخپل موټر کې ډاکټر ته بیولې و.
ما ټول ماسپښین هم هلته په ساحل د نورو خلکو سره تېرکړوچې وګورو
بیړۍ به څنګه اوبو ته ورټیله کوي. ډېر خلک اخته و ، چا سره پیړي و
چې د لوې بیړۍ سره یې تړل او یو څو وړو کشتیو کې ناستو کسانو د دی
د راښکلو هڅه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه کور ته ورغلم خو د میکسیم درک نه و.  ماځیگر د ساحل د ساتندویانو مشر راغې او ما ته یې خبر راکړو.  هغو خلکو چې د لوې بیړۍ د شګو نه د ویستلو لپاره په اوبو کی دننه کار کوو، یوه پخوانۍ وړه کشتۍ موندلې وه. دا د ربیکا کشتۍ وه او ده راته بل خبر هم راکړو چې د دې کشتۍ په کیبین (کوټه) کی یو مړې هم موندل شوی دې.  زه په دی نوي خبر هک پک کښېناستم او نه پوهېدم چې ورته څه ووایم.  هڅ مې وهلو چې هغه مړې به د چا وي.  کیدېشي د ربېکا د کومې ملګرې مړې وي چې هغه وخت ورسره په کشتۍ کې ناست و.  په دی وخت کی میکسیم راښکاره شو . هغه مشر ورته ټوله کیسه بیا وکړه نو د میکسیم رنګ وتښتیدو خو ورته یې مننه وویل او هغه سړی ولاړو.

بیا ما دروازه پرانسته چې خوړنځي ته ولاړه شم. هلته میکس په یو میز زما په انتظار ناست و.  زه په هغو څو شیبو کی لویه شوې وم او کله چې د میز په لوري روانه وم نو د هر یو ګام سره پوهیدم چې اوس زما سر نوشت معلوم نه دې.

زه چې د میکسیم سره یواځې شوم نو ورته مې وویل، " زه د هغه لباس لپاره درنه بخښنه غواړم ، زه پوهه نه وم چې..." میکسیم وویل، " اوس اوبه د ورخه تېرې دي ګرانې، زمونږ په برخه چې کومه وړه خوشالي رارسېدله د هغې چانس مو د لاسه ورکړې دې.  زه په دی خبره پوه نشوم او ورته مې وویل، " د دی خبرې نه دې څه مطلب دې؟"  میکسیم راته وویل، " هغه مړې چې دوي د ربېکا په کشتۍ کې موندلې دې، د هغې د ملګرې نه بلکه پخپله د ربیکا مړې دې"

ما ترې پوښتنه وکړه چې دې څنګه خبر شو نو راته یې وویل، " زه خبر یم ځکه ربېکا ما پخپله وژلې وه"  د دی خبری په اوریدو زه لا وارخطا شوم او باور مې نه کیدو. میکسیم وویل، " دا مې د کشتیو په هغه وړوکي کورګي کې وژلې وه، بیا مې د دی مړې کشتۍ کی واچوو، د دی په تل کی مې سورې وکړو چې دا په سمندر کی غرقه شي"

د ژوند د هره ورځې کارونه مونږ د عادت له مخې کوو.  په یو ټاکلي وخت، ډوډۍ ، خوب او ځان وینځل زمونږ عادت شي. که هر څومره بحران راباندې راشي خو د عادتونو دا څرخ مو نه بدلیږي.

مونږ دواړه په کتابتون کی د بخاري مخ ته ناست و، جیسپر هم هلته زما په پښو کی پروت و.  میکسیم راته د ربېکا سره د خپل واده او تیرژوند کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه. هغه ښکلې، نازنينه او با استعداده وه، خو ورسره خود غرضه، چالاکه او سازشي هم وه. د واده له پيل نه د دوي تر منځ ستونزې پيدا شوې. د دوي طبيعت او عادتونو له يو بل ډېر توپير لرلو.

دوي د مونټي کارلوپه هم هغه هوټل کې ايسار و چې ما پکې ميکسيم سره ليدلي و. ده وويل، "ربېکا راته شرط ايښې و چې که زه يې خپلې خوښې ته پرېږدم نو دا به د مينډرلې د مشرې په توګه د ده سر لوړ کړي."

مينډرلې د ميکسيم آباي کور و او په دی سيمه کی د دوي د ټبر نوم په شريفو خلکو کی حسابيدو. ده نه غوښتل چې د ربېکا نه بيل شي او خلک يې د طلاق په بد نوم ياد کړي.

ميکسيم د خپلې ټبر د ناموس له کبله ربېکا ته څه نشو ويلې او څو کاله دوي هم داسې ژوند وکړو. هر چا فکر کوو چې دوي د يو بل سره ډېر خوشاله دي. د دوي کور مينډرلې د ميلمستياوو او د ميلمه پالنې لپاره په ټول ملک کی نوم وګټلو. خو په دی کلونو کی د ربېکا زيات وخت به په لندن کی تيرېدو چې هلته د خپلو ملګرو يوه ډله يې لرله. کله چې دا به مينډرلې ته راغله نو سړي به هم ورسره و او زيات وخت به يې د کشتيو په هغه کورګي کی له دوي سره تيروو.

د هغې جنسي ولوږه زياته وه او د دې تروروزې جيک فاويل يې هم په عاشقانو کی و. يو وارې د بيټريس خاوند جايلز او ان چې د فرينک سره يې د ملګرتيا او ځان نږدې کولو هڅه وکړه. ميکسيم د دی هر څه نه خبر و خو د بدنامۍ له ويرې يې څه نشو ويلې.

اخر ربېکا د خپل مېړه د شرافت نه دومره استفاده وکړه چې حد يې نه لرلو. يوه شپه ميکسيم د خپل ټوپک سره د سمندرپه غاړه هغه کورګي ته په دی نيت ولاړو چې د ربيکا تروروزې جيک فاويل ته پرې ګواښ وکړي. هلته ربېکا يواځې وه او ميکسيم ورته وويل چې که دې د جيک او خپلو نورو ملګرو سره ناجايزې اړيکې ختمې نکړې نو دې به ورته طلاق ورکړي.

ربېکا وخاندل او ورته يې وويل چې د طلاق لپاره به ميکسيم بايد محکمې ته ولاړ شي او هلته يو دليل وړاندې کړي.

خو دې به چرې په يوه محکمه کی هم د دې د جفا په اړه شهادت وړاندې نکړې شي. د دی ټول ملګري به هيڅ نه واي او د کور ټول ملازمان هم د دې په طرف دي. هغه ټول خلک چې ددوي کور ته د ميلمستياو لپاره راتلل، خبر و چې مونږ څومره ښه ژوند لرو او تر منځ مو هيڅ اختلاف نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. دا خبره به په محکمه کې هيڅوک ثابته نکړي چې زمونږ تر منځ جنګ هم شوې و. د ميکسيم لپاره د هغې دا خبرې نورې هم د خفګان سوب شوې. ربېکا ورته وويل چې دا به له دې وروسته يو څه احتياط کوي ځکه هغه د جيک فاويل د ماشوم مور کيدونکې وه او ټول خلک به فکر کوي چې هغه د ميکسيم ماشوم و. د دې ماشوم روزنه به د مينډرلې د وارث په توګه کيږي.
د دی خبرې په اوريدو د ميکسيم د صبر کاسه نسکوره شوه او په هغې يې د ټوپک ډز وکړو. دا په ټکي مړه شوه نو د دې مړې يې راواخستو او د هغې کشتۍ په ښکته برخه کی يې کېښودو. بيا يې کشتۍ سمندر منځ ته يوړه، د دې په تل کی يې سوري وکړل او پخپله په يوې وړې کشتۍ کې ترى ولاړو. هغه لويه کشتۍ ورو ورو په اوبو کی ډوبه شوه. څو ورځې وروسته په يو بل ښار کی له سمندر د يوې ښځې مړې وموندل شو.
چار واکو تر هغې د ميرمن ربېکا ډا ونټر د ورکيدو معمه نه وه حل کړې نو هڅ يې ووهلو چې کيدېشي دا د ميکسيم د ميرمنې مړې وي. دې د شناخت لپاره يې راوبللو او ددی لپاره چې ميکسيم د خلکو شکونه ليرې کړي، ده پوليس ته وويل چې هغه مړې د ده د ميرمنې ربيکا و. سره له دې چې دی خبر و چې د ربيکا مړې د سمندر په تل کی پروت و.
ما د ميکسيم له خلې دا ټوله کيسه واوريده نو تر غاړې يې ووتم. ډاډ مې ورله ورکړو چې حالت دومره هم خراب نه دې څومره چې ده فکر کړې و. د دی ټولې کيسې نه اوس مونږ دواړه خبر و، نور هيچا ته معلومه نه وه او ميکسيم کولې شول چې پوليسو ته يې ويلې وې چې د مړي په شناخت کې ده اشتباه کړې وه. هيڅوک به پرې شکمن نشي.
مونږ دا خبرې کولې چې د ټيليفون زنګ وغږيدو. بلې غاړې ته ډګر من جوليان د سيمې قاضي و او د ميکسيم نه يې پوښتنه کوله چې آيا دا امکان و چې يو کال مخکې هغه د خپلې ميرمنې د مړي په پيژندنه کی اشتباه کړی وه. داسې ښکاريده چې نن په موندل شوې کشتۍ کې هغه مړې چار واکو پيژندلې و چې هغه ربېکا وه. د دوي د ټيليفون خبرې پاې ته ورسيدې نو څو شيبې وروسته يو خبريال ټيليفون وکړو او د مړي او د کشتی په اړه يې پوښتنې پيل کړې. خو ميکسيم هغه ته لنډ ځوابونه وويل او ټيليفون يې بند کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغرمې له ډوډۍ وروسته مونږ په تياره کوټه کی څنګ تر څنګ کښېناستو او د يو بل لاس مو نيولې و. ښاي مونږ به نور هم بدل شو او يو وخت به راشي چې لاسونه به مو داسې نه وي نيولې. هغه څه چې مونږ د خپل ژوند لپاره پلان کړي و، نه به کيږي. خو اوس دا شيبې مو خوندي وې او هيڅا زمونږ تر منځ خنډ نشو جوړولې. هغه شيبه ما سره نه د تير وختونو ارمان و او نه د راتلونکي په اړه مې انديښنه لرله. بس هغه شيبه د دواړو لپاره خوندي او ارامه و. د نورو لپاره هغه وخت هيڅ اهميت نه لرلو، لکه د عادي ورځو په څير ورته يوه ورځ وه چې دوي به يې هير کړي او بيا به يې چرې ورباندې سوچ هم نه کوي. هغه ماسپښين پاو باندې درې بجې، د دوي لپاره هيڅ و ، خو مونږ دواړو په هغه ماسپيښين دا وخت قيد کړی و او زه به يې تل يادوم.
زه اوس په هغو ټولو خبرو پوهيدم چې پخوا راته يوه معمه و. هر څه راته روښانه کيدل. په دی پوهه شوم چې کله ما د ربيکا په اړه پوښتنې کولې نو فرينک ولې ناارامه و. په دې هم پوهه شوم چې بيټريس ولې د هغې د نوم په اوريدو خبره واړوله. زه په دی هم پوهه شوم چې کوم خلک راته د پوښتنو په ځواب کی خاموشه شول، د دوي خاموشي مانا له ما سره زړه سوي نه وه بلکه د شرم او د خجالت احساس و. د هغه احساس له کبله به چا څه نه ويل.
اوس چې پرې فکر کووم نو خپل ساده توب ته حيرانه شم چې زه ولې په دې خبرو هغه وخت نه پوهيدم. دې ته هم حيرانه وم چې په دی نړۍ کی به څومره ډېر خلک وي چې لکه د غنې په جاله کې راګير دي اوله شرم يا له وېرې او د خله پټه ساتلو په هڅو لکه د ړندو وخت تېروي. د خپل ناموس د پاره يې پخپله د ځان نه چاپېره دومره لوړ دېوالونه خيجولي وي چې په ژوندو پکې خښ شي.
ما سره داسې شوي و چې پخپل ذهن کې مې انځورونه جوړ کړي و او د هغوي مخ ته ناسته وم. ما چرې هم دومره حوصله ونکړه چې د حقيقت د معلوموملوغوښتنه وکړم. که زه د خپلې جالې نه بهر وتلې وې او د ميکس نه مې پوښتنه کړې وې نو ښاي څلور يا پينځه مياشتې وړاندې به د هر څه نه خبره وی.
په بله ورځ د مينډرلې په چاروکی يو بدلون راغلو. د لومړي ځل لپاره ما د خپل کور انتظام پخپل لاس کې واخستو. ټولو ملازمانو ته مې پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه وسپارل. د کور د خوراک ډوډۍ لپاره د ربېکا له خوا چې کوم شیان لیکلي و، دا مې ټول بدل کړل. میرمن ډینور راباندې اعتراض وکړو چې د مینډرلې هر څه د میرمن ډا ونټر له خوا ټاکل شوي و. ما د هغې په سترګو کې وکتل او ورته مې وویل، " زه میرمن ډا ونټر یم او ته زما لپاره کارکوې نو باید زما خبره وومنې "

زه پوهیدم چې د میرمن ډینور په زړه اور بل و خو هغې په ادب زما هر امر په ځای کوو. ما هوډ کړې و چې مېنډرلې زما کور دې او هم هغسې به وي چې زه یې غواړم. د غرمې د ډوډۍ لپاره مې د نویو شیانو د پخولو امر وکړو، د ناستې د کوټې ترتیب مې بدل کړو. کړکۍ مې ورباندې پرانیستې چې تازه هوا دننه راشي او د باغ نه د ګلانو ګلدستو راوړلو امر مې وکړو چې په دالانونو او کوټو کی زما پر خوښه ځای پر ځای شول.

زه اوس د میرمن ډینور نه په ویره نه وم او هغې ته مې څرګنده کړې وه چې دا کور زما و، نه د ربېکا! خو هم هغه وخت په زړه مې یو لوې پیټې هم پروت و چې که څوک خبر شي چې ربیکا د میکسیم د لاسه وژل شوې وه نو بیا به څه کیږي. کله کله به نا امیده شوم خو دا مې هیله وه چې تر څه وخته به څوک نه خبریږي.

د غرمې د ډوډۍ لپاره ډګرمن جولیان راغلو او بیا د فرینک کرالي سره یو ځاې مو د پولیسو د پلټنو په اړه خبرې وکړې. اوس د دې خبرې پخلې شوې و چې په کشتۍ کې موندل شوې مړې د ربېکا و او جولیان راته ډاډ راکړو چې دا هر څه د یوې بد مرغې پیښې څو کړۍ وې. ده وویل، " داسې ښکاري چې ربېکا د کشتۍ لاندې برخې ته ولاړه او هم هغه وخت په سخت باد کشتۍ وخوځیده. کیدېشي د دې سر د یو شي سره وجنګیدو او هم هغه د دې مړینې سبب شو. په هغه ورځ هوا خرابه وه او په سمندر کې طوفان و نو ممکن کشتۍ چپه شوه. میکسیم ورته سر وخوځوو خو وې ویل، " د بل مړي د شناخت په اړه به څوک څه ووای؟ جولیان ورته تسلي ورکړه چې داسې څو وار شوي دي چې د غم د لاسه د مړي دخپلوانو زهني حالت سم نه وي. په داسې موقعو دوي زیات وخت داسې اشتباه وکړي چې د ربیکا د مړي په پیژندلو کې له تا شوې وه.

کله چې ډګر مند جولیان ولاړو نو میکسیم راته وویل، د پوسټ مارټم راپور واي چې د هغې په وجود د ګولۍ د ټپ هیڅ نښه نه وه. داسې ښاي چې ګولۍ د ربیکا له غوښې تیره شوې وه اودا ثبوت نشته چې هغه په ډزو وژل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وه. د اوس لپاره میکسیم په قتل تورن نه و ځکه چا دا نشو ثابتولی.
ده زما لاس ونیولو او راته يې وویل، " زه د ربېيکا په وژلو هیڅ پښیماني نه لرم، خو افسوس په دې کوم چې ته راسره د دې ټولو مشکلاتو نه تیریږې. زه ځان ستا مجرم احساسوم چې ستا په شان یوه معصومه جینۍ په دې توګه د ژوند کرغیړن مخ ولیدو"
په بل سهار ټولو ورځپاڼو کی د ربیکا د مړي د موندلو خبر خپور شوې و او هر چا پخپلو معلوماتو له دی پیښې په اړه راپارونکي راپورونه لیکلې و. ځینو د میکسیم په اړه منفي خبري لیکلي وي، لکه دا چې د ده د مړې میرمنې د قبر خاوره لا تازه وه چې د یوې ځواني جینۍ سره يې واده کړې و. فرینک د ورځپاڼو خبریالانو ته په تیلیفون معلومات ورکول. د دوي د پوښتنو ځوابونه به يې په داسې جملو کې ویل چې زما وربانديې شک شو چې دې خبر دې چې میکسیم ربیکا وژلې وه.
زه او میکس د فرینک سره یو ځاې د پولیسو مرکز ته ولاړو چې پکې د مړي د شناخت نه وروسته د پلټنو راپور او نتیجه څرګندېده. زمونږ موټر چې د یوې ودانۍ مخ ته ودریدو نو هلته جیک فاویل او میرمن ډینور مې ولیدل. میکسیم راته وویل چې د پوښتنو ګرویږنو پر وخت زه به سترې شم نو مخا مخ یوې کیفې کې دې کښینم.
دوه ساعته وروسته زه دننه ورغلم چې د پلټنو مشر ټولې پیښې بیان کړې او وې ویل چې د ربیکا کشتۍ کمزورې وه نو ځکه هغه د سختو بادونو او د تیزو اوبو زور ونشو زغملې او په نتیجه کې په اوبو کی غرقه شوه.

په دی وخت کې یو سړې ودریدو چې د ربیکا د کشتۍ جوړرونکې و. ده وویل چې هغه د ډوب شوې کشتۍ چې اوس يې له اوبو راویستې وه جاج اخستې دې. ده وویل چې د کشتۍ په تل کې سوري شوي و چې په څرګنده بڼاي چا په لوې لا س د دې کشتۍ د غرقولو کار کړې و. د پلټنو مشر د دې څرګندونې نه وروسته د میکسیم نه نورې پوښتنې پیل کړې چې د ده او د ربیکا اړیکې څنګه وې. میکس د ځوابونو لپاره هڅه کوله خو هر څومره چې ده معلومات ورکول هم هغه هومره پوښتنې هم زیاتیدې او د پولیسو په لهجه کې سختې مې احساسولې شوه. زما زړه په زوره زوره درزیدو او د میکسیم نه د هرې پوښتنې فشار ما پخپل ځان احساسوو. یو وخت مې په سترګو تیاره شوه او له خپلې چوکۍ ولویدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه نه یم خبر چې دوي څنګه زه بهر خپل موټر ته بوتلم. زما په بې هوشۍ پلټنې وځنډول شوې. میکسیم په موټر کې راته اوبه راکړې او زما د روغتیا په اړه خواشینې و. مونږ د غرمې ډوډۍ وخوړه نو زما ساه صورت په ځای شول. میکسیم زه د فرینک سره کور ته واستولم او هغه په لاره راته وویل چې د کشتۍ جوړونکي په بیان ښاي پلټنې وغزیږي. په کشتۍ کې د سوریو مانا دا وه چې دا یوه حادثه نه وه.
میکس چې کور ته راغلو نو خبر یې راکړو چې د پلټونکي مشر فیصله دا وه چې ربیکا د نامعلومو عواملو له کبله خپل ځان پخپله وژلې و. زما زړه ارامه او هیله مې پیدا شوه چې هرڅه به سم شي.
په بله ورځ نمر راختلي و او مونږ بهر په باغ کې کښیناستو. ژوند راته ډېر ښکلې ښکارېدو او زړه مې و چې ټوله ورځ هم هلته تیرکړو. دا د امن شیبې مې د لاسه ورکول نه غوښتې. په هغه ورځ په نږدې کلیسا کې د ربیکا د جنازې او د ښخولو مراسم و او میکسیم ورته تلو. ما په زړه کې داسې احساس کوو چې زمونږ د خوشالۍ دا شیبې به لنډې وي. نه پوهیږم چې ولې؟
کله چې میکس د جنازې لپاره ولاړو نو جیک فاویل راښکاره شو. ما ورته سترې مشي وویل خو ده اوتې بوتې پیل کړې. زه پوهه شوم چې ده ډېر شراب څښلي و او په خود نه و. ما ته یې وویل، " ته څه فکر کوې چې زه به دا معامله په اسانه پرېږدم. ربیکا ځان نشو وژلې، هیچرې نه...هغه له ژوند ډکه وه او د هغې خون د یو چا په غاړه دې. بیا یې راته ګواښ وکړو چې د ربیکا د قاتل د نیولو لپاره دې به محکمې ته ځي او هر چا چې دا کار کړی و سزا به ورته ورکول کیږي.
زه نه پوهیدم چې ده څه غوښتل او ولې یې دا خبرې کولې. داسې راته ښکاریده چې دې د یو څه نه خبر و خو ما ته یې پورا خبره نه کوله.
دی هم دغسې راته لګیا و او زما تلوسه د وخت په تیرېدو زیاتېده چې میکس او فرینک دواړه له جنازې بیرته راغلل. دوي ورته په کلکه وویل چې دی دې له هغه ځایه ولاړ شي خو د ربیکا ترورزي یو کاغذ له خپل جیبه راوویستو او وې ویل چې هغه لیک ربېکا د خپلې مړینې په ورځ لیکلې و. لیک داسې و " زه یوه ډېره مهمه خبره درته کول غواړم. نن شپه له ما سره د کشتیو په هغه کورګي کې د ملاقات لپاره راشه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ربېکا ترورزې جیک فاویل هغه لیک په زوره ولوستو چې پکې ربیکا ورته د شپې ملاقات لپاره ویلي و. ده مونږ ټولو نه پوښتنه وکړه، " څوک چې خپل ځان وژني، آیا هغه داسې لیک لیکلې شي؟ " بیا یې میکسیم ته وویل چې که دی وغواړي نو پولیس ته به د دی لیک حال نه وایي، خو په دې شرط چې باید ورسره د پیسو یوه معامله وکړي. ما سوچ کوو چې یو انسان به دومره هم سپک شي چې د خپلې مړې ترورزی د لیک لپاره د چا نه پیسې واخلي.
د جیک وړاندیز دا و چې که میکسیم له خپله جیبه هر کال ورته درې زره پونډه ورکړي نو دې به پټه خله پاتې شي. زما په نظر دا " بلیک میل " و چې په دی ملک کې جرم دې. فرینک د هغه په خبرو خواشینې و او میکسیم ته یې د وویل چې د ده خبره به وومنو او یو څه پیسې به ورته ورکړو. خو میکسیم انکار وکړو ځکه هغه یو بل جرم ته لاس نشو اچولې. هم هغه وخت یې ډګر مند جولیان ته ټیلیفون وکړو چې راشي او دا ستونزه دې هم هغه شیبه غوڅه کړي. جیک فاویل په دې هیڅ وېره ښکاره نکړه او د یو داسې کس په څیر راسره کښېناستو څوک چې په ځان ډېر باور لري.
کله چې جولیان راغلو نو جیک په زوره زوره خاندل او ورته یې وویل چې میکسیم د ربیکا قاتل و او سمدلاسه دې ګرفتار کړی شي. جولیان ترې پوښتنه وکړه چې ده سره څه ثبوت و، نو جیک وویل، " ربیکا زما معشوقه وه او مونږ د واده پلان جوړ کړي و. کله چې میکسیم له دې خبر شو نو په قهر یې خپله ښځه ووژله. هغه د ربېکا لیکلې لیک ورته ښکاره کړو نو میکسیم جولیان ته وویل، " هم د دې لیک په بدل کې جیک له ما درې زره پونډه د کال غواړي."
جیک فاویل هم هغسې د شرابو په نشه کې اوتې بوتې ویلې نو ځکه ډګر مند د ده په خبرو باور نشو کولې. هغه د فاویل نه غوښتنه وکړه چې د ده د تورونو تر شا ورسره څه ثبوت یا د شاهدي لپاره څوک موجود و او که نه؟ که داسې نه و نو د ده خبرې بې اعتباره وې. فاویل یو څو شیبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرت وهلو او بیا یې وویل، یو کس چې "بین" نومېږي او مجذوب دې د ساحل سره نږدې اوسېږي. هغه نه دې پوښتنه وشي.
زما زړه په زوره ودرزېدو او د بین خبره راته رایاده شوه، چې د یوې لوړې میرمنې پوښتنه یې رانه کوله او دا چې هغه به بیرته خو نه راځي؟
ما سره دا وېره پیدا شوه چې هسې نه ده د ربیکا قتل پخپلو سترگو لیدلې وي او هسې نه چې اوس جولیان ته حال ووایي. ممکن د ټولو پیښو د سپیناوي لپاره د بین خبرې په محکمه کې وکارول شي.
کله چې بین راغلو نو ده خپله خولۍ په لاس کې کلکه نیولې وه او زما پرې زړه ووسو. کمبخت نه پوښتنې پیل شوې خو ده په ژړغوني غږ یوه خبره بیا بیا کوله چې ما به " پاگل خانې " ته خو نه لیږئ. ده ته ډاډ ورکړې شو نو وې ویل چې ده هیڅ نه و لیدلي او نه یې چرې فاویل پخوا لیدلې و.
ډگرمند جولیان چې بین ته د تلو اجازه ورکړه نو فاویل ته یې مخ واړوو او ورته یې وویل، " ته دا هم نشې ثابتولې چې ته د ربیکا عاشق وې" د دې خبرې په اوریدو فاویل یوه ناخواله خندا وکړه او وې ویل، " ښه. ته فکر کوې چې زه دا نشم ثابتولې؟ نو بیا میرمن ډینور راوغواړئ."
کله چې میرمن ډینور راغله نو د جولیان د پوښتنې په ځواب کی یې وویل، " هو ...دا ریښتیا و چې ربیکا د فاویل سره اړیکې لرلې، خو هغې د ده پرواه نه ساتله، د هغې لپاره مینه او جنسي اړیکې یوه لوبه وه، تشه لوبه..."
هغې دا خبره څو وارې تکرار کړه او اخر کی یې غږ دومره لوړ شو چې ما فکر کوو، دا به لیونۍ شي. ډگر مند جولیان په خبروخبرو کې له هغې نور معلومات وغوښتل او پوښتنه یې وکړه چې د هغې مشرې د ځان وژنې لپاره څه دلیل لرلو؟
میرمن ډینور دا خبره په کلکه رد کړه چې گني ربېکا به پخپل ځان وژلې و. هغې وویل چې د ربېکا د ورځې د پروگرامونو یوه ډایري تر اوسه ورسره وه. په دې کې لیکلي دي چې دا د خپلې مړینې په ورځ په لندن کی کومو ځایونو ته تللې وه. د جولیان په امر هغه کتابگوټې راوړل شو او په دې کی هغه ورځ په نښه شوې وه چې ربېکا به په لندن کې د بیکر نومې یو سړي سره لیدل. دی یو ډاکټر و. نساي ډاکټر.
د دی نوي معلوماتو نه وروسته جولیان فېصله وکړه چې بې له میرمن ډینورنه نور ټول به سبا ته لندن ته ورځو او هلته به د ډاکټر بېکر سره خبرې کېږي. په هغه شپه زه او مېکسیم ډېر ناارمه و او داسې راته ایسېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سبا به هر څه په ډاګه شي . ډاکټر به ارو مرو دا شاهدي ورکړي چې د ربیکا په نس کې ماشوم و. په دی ثبوت به پولیس پوه شي چې میکسیم د حسد او د ناموس لپاره په قهرخپله ښځه وژلې وه. هم دا حقیقت و او ښاي ده هم داسې کړي و.

مونږ کرۍ شپه داسې تېره کړه لکه چې دواړو یوه لویه ګناه کړې وي.

په بل سهار وختي په موټر کې لندن ته روان شو. مونږ سره فرینک او فاویل چې اوس یې نشه کوزه شوې وه مله و. د یو اوږد سفر نه وروسته مونږ په لندن کې د ډاکټر بیکر ځاې پیدا کړو چې ډګر مند جولیان هم ورته تللې و. ډاکټر د خپلو مریضانو په اړه په یو رجسټر کې نومونه لیکلي و. خو هلته د میرمن ربیکا ډا ونټر نوم نه و. میکسیم هغه ډاکټر ته د ربیکا کړه وړه وښودل نو ورته رایاد شول چې هغې ښځې په یو بل نوم ورته ځان پېژندلې و.

په رجسټر کی د ربیکا نوم "میرمن ډینور" لیکلي و. کله چې دا ثابته شوه چې هلته د میرمن ډینور نوم په اصل کې ربېکا وه نو جولیان له ډاکټر وپوښتل چې د هغې څه مرض و؟ ډاکټر څو راپورونه وکتل او بیا یې وویل، " د هغې مرض لاعلاجه و، یو ډول سرطان یې لرلو چې عملیات یې ممکن نه و. هغې رانه غوښتنه کړې وه چې ورته د تشخیص په اړه ریښتیا ووایم. ما هم دغسې وکړل او دې ته مې خپل تشخیص څرګند کړو. د دې مرض داسې حد ته رسېدلې و چې زما په اند دا به یو څو میاشتې نوره ژوندۍ پاتې وې." د ډاکټربېکر نه پوښتنه وشوه چې داسې امکان و چې ربیکا د ماشوم سره وه نو ده وویل، " د دې میرمنې په " بچه دانۍ " کې نقص و او د ماشوم د زیږولو جوګه نه وه".

د دې معلوماتو نه وروسته د ډګر مند جولیان له نظره ستونزه حل وه او هغه دا چې ربیکا د ځان وژنې لپاره یو دلیل لرلو. خو ده مونږ دواړو ته مشوره ورکړه چې د اوس لپاره دې له انګلستان ولاړ شو او په یو اروپاي ملک کې څه وخت تیر کړو، تر څو چې د خلکو او د خبریالانو نه دا هر څه هېر شي. فاویل د ډاکټر بېکر په خبرو ډېر وارخطا ښکارېدو او د هغه ځاې نه د وتلو پر وخت یې له ډاکټر پوښتنه وکړه چې د سرطان مرض د یو نه بل ته لګي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ټولې اندیښنې د اوس لپاره ختمې وې او زه کور ته د تلو لپاره د میکسیم سره په موټر کې کښیناستم. په لاره کې راباندې تیاره شوه او مونږ د دمې لپاره په یو هوټل کې ایسار شو.

د هوټل په مېز مونږ یو بل ته وموسېدو ، د ډوډۍ لپاره مو فرمایش ورکړو، یوه او بله خبره مو کوله. خو ما ځان ته وویل چې زه هغه څوک نه یم چې پینځه دقیقې وړاندې وم. هغه څوک وروسته پاته شول. زه یوه بله ښځه یم، د ډېر عمر او د پوهې لرونکې ښځه....

میکسیم له هغه هوټل مینډرلې ته ټیلیفون وکړو چې د خپل راتګ خبر بټلر فرت ته ورکړي. هغه ورته وویل چې د میرمن ډینوردرک نه و. میکسیم د دې خبرې په اوریدو ناارامه شو او راته یې وویل چې د ډوډۍ نه وروسته په هوټل کې شپه نه کوو اوولاړ به شو چې تر سهاره کور ته ځان ورسوو.

زه سخته ستړې وم او میکسیم راته وویل، چې شاته په سیټ دې ویده شم. زما سترګې ورغلې او خوب مې لیدو چې زه د یوې هندارې مخ ته ولاړه وم خو هلته مې د خپل ځان پر ځاې ربیکا لیدله. زه دومره غم ژنه شم چې راویښه شوم او میکس ته مې وویل چې زه به ده سره په وړاندې سیټ کښېنم. بیا پاتې ټول سفر مې د هغه سره په خبرو تېر کړو.

د مینډرلې لاره زمونږ په وړاندې وه. ما د میکسیم په اوږه سر ایښې و او اسمان ته مې کتل چې سپوږمۍ پکې نه وه. یو وخت مې داسې فکر وکړو چې مخامخ لیرې په افق کې د لمر نارنجې رڼا خپره وه. ما میکس ته هغه رڼا ښکاره کړه نو راته یې وویل، " مونږ د لویدیځ خوا ته روان یو" زه حیرانه شوم چې د غرونو نه وراخوا په لویدیځ کې دا د څه شي رڼا وه. میکسیم راته وویل، " دا د مینډرلې رڼا ده، هلته اور بل دې" څومره چې مونږ غرونو ته نږدې کیدو هغه رڼا ورسره زیاتیده. موټر د یو غونډۍ د پاسه وختلو نو ښکته د سمندر پر غاړه مې مینډرلې ولیدلو چې د اور لمبې ترې راپورته کیدې. زمونږ په سر اسمان تک تور نه و. داسې و لکه چې د وینې سور رنګ پکې ګډ و. د سمندر د لوري نه هوا له ځانه سره مالګینه شګه او د مینډرلې ایرې زمونږ په لور را بادولې.

ربیکا ته پټ من میرمن ډینور لکه چې نور د خپلې اتلې او بادارې د پټ ژوند په ډاګه کیدل نه غوښته. هغه وخت چې ټول په مینډرلې کې ویده و، هغې اور بل کړې و. ښاي په دې کار یې له مونږ دواړو بدل اخیستې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کور چې ربیکا پکې په ډېر شان او شوکت ژوند کړې و په بل چا يې پيرزو نه و.
اوس يوه خبره يقيني ده چې مونږ بيرته نشو تلې. تير وختونه اوس هم مونږ ته نږدې دي. هغه څه چې مونږ دواړو د هېرولو هڅه کوله او په شا مو پريښي دي، ښاي يو واري بيا راته مخې ته ودرېږي. د دی له کبله مونږ د ويرې احساس لرو او ورسره ناارامه يو. د دی نا معقول وېرې سره مونږ ډېر وخت لاس او گريوان و. خو اوس د خداې په فضل د هغه حالت نه راووتلو. په راتلونکي کې خبر نه يو چې هغه به کوم عوامل وي چې د پخوا په شان هغه وېرې بيا زمونږ مله شي.
زه خوشاله يم چې د لومړۍ مينې تبه د انسان يو واري کيږي. شاعران هر څه چې واي، خو زه د لومړۍ مينې تبه يو پېښې گڼم. دا هغه د ځوانۍ ورځې وي چې مونږ ډېره حوصله نه لرو. له هر شي وېره لرو، هيڅ بې هيڅه وېرېږو. دومره په اسانه خفه شو او په لومړي خنډ کې راغورځو. نن د پاخه عمر په درشل کې مې ځان د تجربې په پوښ کې تاو کړې دې. د هرې ورځې واړه غمونه لکه د ازغو راته نشتر شي خو زه يې پرواه نه کووم او ژر رانه هير شي.

پاې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**